

# ملالی

## لوړو زده کړو مؤسسه

# کټلاک

۱۴۰۲ ل. کال



# اړیکي

**فیسبوک او انستاګرام**
Malalay.mihe

**ټویټر Twitter**
Malalayedu

**ویب پاڼه Website**
malalay.edu.af

**لنکډ ان LinkedIn**
Malalay Institute of Higher Education

**بریښنالیک E-Mail**
info@malalay.edu.af

**یوټیوب Youtube**
Malalay University

**وټس اپ Whatsapp**
0703300634

**پته : دوهمه عینو مېنه، ختیځ لور، ۲۸ سړک. کندهار، افغانستان.**

# پېژندنه او د ماموریت اعلامیه

## پېژندنه Introduction:

ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه د کره انساني، اسلامي، ملي او اخلاقي ارزښتونو په چوکاټ کي د علمي کچي لوړولو او هیواد ته پرمختګ ورکولو په موخه د لوړو زده کړو وزارت (۵۸) نمبر جواز په اخیستلو سره په (۱۳۹۱/۲/۴ ل.) نېټه د دوو پوهنځیو (معالجوي طب، حقوق او سیاسي علوم) په ایجادولو په کندهار لرغوني، سیاسي، علمي او فرهنګي ولایت کي تأسیس سوه.

ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه د چارو تنظیمولو په موخه تر شلو ډېري کمېټې او شوراګاني لري او پرېکړې پکښي د شورائیت له مخي کېږي. همدارنګه په مختلفو اداري واحدونو کي تر (۴۰) ډېر اداري کارمندان لري. عمومي ریاست، مالي او اداري چارو معاونیت، محصلانو چارو معاونیت، علمي چارو معاونیت، طب پوهنځي ریاست، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ریاست د مؤسسې لوی اداري واحدونه دي. په ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه کي د سهار او ماپښین له خوا درسي چاري مخ ته وړل کېږي.

## لېر لید Vision:

ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه به د هیواد د بیارغوني او هر اړخیز اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په موخه په مختلفو تحصیلي څانګو کي د معیاري تدریس، څېړني او خدماتو وړاندي کوونکې وي.

## رسالت Mission:

ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه همدا اوس په ځانګړو تحصیلي څانګو کي د مسلکي او ژمنو کادرونو د روزني په موخه د ښه اکاډمیک چاپېریال رامنځ ته کولو له پاره هلي ځلي کوي.

## بنسټیز ارزښتونه Core Values:

- اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی
- علمي او اکاډمیکه سپېڅلتیا
- ملي یو والی
- عدالت او مساوات
- شفافیت، مسؤلیت او حساب دهي
- اصولو ته پابندي

## ستراتېژیکي موخي Strategic Goals

- بنسټیز تأسیسات ودانول
- مالي او اداري چاري تنظیمول
- کیفیت لوړول او اعتبار ترلاسه کول
- د ټولني په پرمختګ کي ونډه اخیستل
- د مؤسسې ظرفیت لوړول
- علمي او څېړنیزو فعالیتونو ته وده ورکول



# Why MIHE? ولي ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه؟

- تکړه او مجرب ماسټر او دوکتور استادان لري.
- د عملي کارونو له پاره د ښار له معتبرو روغتونونو سره قراردادونه لري.
- د نظري او عملي زده کړو له پاره نوی تحصیلي نصاب لري.
- د کیفیت ارتقاء او اعتبار اخیستني په برخه کې نیک شهرت لري.
- د محصلانو عملي کارونو له پاره تمثیلي محکمه، مناظرې کلب او حقوقي کلینیک لري.
- محصلان د عملي کارونو له پاره دولتي او غیر دولتي سازمانونو ته معرفي کوي.
- د محصلانو عملي کارونو له پاره مجهز Skill Lab او څلور لابراتوارونه لري.
- د فارمکولوژي مضمون عملي زده کړې له پاره مجهز درملتون لري.
- په ټولګیو کې پروجکټورونه، پلازماوي، شنې او سپنې تختې، د یخنۍ او ګرمۍ ضد وسایل لري.
- د غونډو، ورکشاپونو، سمینارونو او کنفرانسونو له پاره مجهز تالارونه لري.
- د ښځینه محصلانو له پاره جلا صنفونه، مجهز ټرانسپورټ، د تګ - راتګ جلا لاري او مسجد شریف لري.
- د محصلانو له پاره ستاینغونډې او فراغت غونډې دائروي.
- د ژبو په مرکز کې د انګلیسي او عربي ژبو او کمپیوټر زده کړې خدمات وړاندې کوي.
- د امریکا له ECFMG او د بریتانیا له GMC سره غړیتوب لري.
- مجهز کتابتون، د ښځینه او نارینه محصلانو له پاره د مطالعې جلا ځایونه لري.
- مجهز کمپیوټر لب او چټک انټرنټ لري.
- د والیبال، فوټبال او کرکیټ لوبو له پاره معیاري لوبغالي لري.
- کفتریا، کاپي مرکز او مجهز کانتین لري.



# پوهنځي Faculties

## ۱ معالجوي طب پوهنځی

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځی په کندهار کي د مسلکي روغتیایي کادرونو د روزني په موخه د مؤسسې له تأسیس سره سم په کال ۱۳۹۱ کي د ثور میاشتي په څلورمه نېټه تأسیس سوه. طب پوهنځی د کندهار ولایت له عصري او معیاري روغتونونو سره قراردادونه لري او محصلان د عملي زده کړو له پاره یادو روغتونونو ته معرفي کوي، په همدې ترتیب د محصلانو او استادانو د علمي څېړنو له پاره ئې مالي منابع ځانګړي کړي دي، تر څو په علمي څېړنو کي ګټه ترې واخیستل سي. طب پوهنځی د بېلابېلو چارو له پاره پنځه کلن ستراتېژیک پلان او تر لسو ډېرې کمېټې لري چې د خپل مهالوېش مطابق فعالیتونه کوي. یاد پوهنځی دوې (پارا کلینیک او کلینیک) ځانګي لري او د سهار او ماپښین په وختونو کي یې درسي چاري پر مخ وړل کېږي. د طب پوهنځي ریاست، معاونیت، کلینیک ځانګي آمریت، پاراکلینیک ځانګي آمریت، تدریسي مدیریت، اجرائیه مدیریت د یاد پوهنځي اداري جوړښت دئ.

| شمېره | علمي پروګرام | پوهنځی | ټوله دوره | ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | معالجوي طب | طب | شپږ کاله (۱۲ سمسټرونه) + یو کال ستاژ | انګلیسي او پښتو |

### یاد علمي پروګرام ته د شمولیت شرایط:

- دوې د تذکرې او دوې د شهادتنامې/درې کلنو نمرو رنګه کاپیاني
- په سپینه پرده کي لس قطعې ۳/۴ انځورونه
- د ثبت نام ۵۰۰ ؋ فیس



## ۲ حقوق او سیاسي علومو پوهنځی

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی په ۱۳۹۱ ل. کال کې د لوړو زده کړو وزارت (۸۹) (۱۳۹۱/۱/۲۸) حکم پر بنسټ تأسیس سو. په پیل کې یې دوې فارغ ورکوونکي (قضاء او څارنوالي او اداره او دیپلوماسي) څانګي لرلې چي وروسته په ۱۳۹۹ ل. کال کې د لوړو زده کړو وزارت د نوي نصاب له مخې یې د څانګو نومونه په حقوقو، سیاسي علومو او نړۍ والو اړیکو بدل سول. یاد پوهنځي ۱۴ دورې فارغان ټولني ته وړاندي کړي دي. د دې پوهنځي استادان او محصلان د مالي سرچینو په مرسته وخت نا وخت د علومو په تولیدولو کې ونډه اخلي تر څو د ټولني د پرمختګ لامل سي. پوهنځی له دولتي او خصوصي سکتورونو سره د ګډو همکاریو تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي. د دې تر څنګ د محصلانو عملي کار له پاره یې حقوقي کلینیک او مناظرې کلب ایجاد کړی دئ چي محصلان پکښي عملي کارونه کوي.

| شمېره | علمي پروګرام | پوهنځی | ټوله دوره | ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | حقوق | حقوق او سیاسي علوم | څلور کاله (۸ سمسټرونه) | پښتو |
| ۲ | سیاسي علوم او نړۍ والي اړیکي | حقوق او سیاسي علوم | څلور کاله (۸ سمسټرونه) | پښتو |

### یاد علمي پروګرام ته د شمولیت شرایط:

- دوې د تذکرې او دوې د شهادتنامې/درې کلنو نمرو رنګه کاپیاني
- په سپینه پرده کې لس قطعې ۳/۴ انځورونه
- د ثبت نام ۵۰۰ ؋ فیس



# اداري تشکيل Organizational Structure

**د عمومي رياست مقام** — لومړی بست — تعداد: ۱

## علمي چارو معاونيت — دوهم بست — تعداد: ۱

- څېړنیز مرکز آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- تألیف او ترجمې مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- پروپوزل لیکنې مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- کتابتون عمومي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- کتابتون د ثبت مدیریت — پنځم بست — تعداد: ۱
- د کیفیت تضمین او لوړاوي آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- د کیفیت تضمین او لوړاوي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- مسلکي پرمختیایي مرکز آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- کمپیوټر لب مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- نشراتو او فرهنګي چارو آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- عکاس، ګرافیک ډیزاینر او ویډیو اوپټر مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- ژبو مرکز آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- آی تي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱

## محصلانو چارو معاونيت — دوهم بست — تعداد: ۱

- محصلانو د انسجام او خدماتو مرکز آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- محصلانو د ثبت عمومي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- محصلانو اجرائیه مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- مشورتي خانګي مدیریت — پنځم بست — تعداد: ۱
- کارموندنې مدیریت — پنځم بست — تعداد: ۱
- ورزش مدیریت — پنځم بست — تعداد: ۱

## مالي او اداري چارو معاونيت — دوهم بست — تعداد: ۱

- بشري سرچینو آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- حفظ و مراقت عمومي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
  - مستخدمین — شپږم بست — تعداد: ۶
  - ساتونکي — شپږم بست — تعداد: ۴
  - موټر چلوونکي — شپږم بست — تعداد: ۲
  - صلاح کوټ مسؤل — شپږم بست — تعداد: ۱
  - باغوان — شپږم بست — تعداد: ۱
  - برقي — شپږم بست — تعداد: ۱
- آرشیف عمومي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- معلوماتو خانګي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- مالي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- د تدارکاتو مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- خزانه دار (Cashier) — خلورم بست — تعداد: ۱

## طب پوهنځي رياست — دوهم بست — تعداد: ۱

- طب پوهنځي معاونيت — دریېم کادري بست — تعداد: ۱
- کلینیک خانګي آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
  - کلینیک خانګي اجرائیه مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- پاراکلینیک خانګي آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
  - پاراکلینیک خانګي اجرائیه مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- تدریسي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- اجرائیه مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- لابرانټ — خلورم بست — تعداد: ۴

## حقوقو او سياسي علومو پوهنځي رياست — دوهم بست — تعداد: ۱

- حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي معاونیت — دریېم کادري بست — تعداد: ۱
- حقوقو خانګي آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګي آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- حقوقي کلینیک آمریت — دریېم بست — تعداد: ۱
- تدریسي مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- اجرائیه مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱
- مناظري کلب مدیریت — خلورم بست — تعداد: ۱

## د دفتر آمريت — دریېم بست — تعداد: ۱

# شورا ګانې او کمېټې Councils & Committees

ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه د چارو تنظیم په موخه بېلابېلې شوراګانې او کمېټې جوړې کړې دي تر څو د مؤسسې د ټولو غړو نظریاتاتو ته انعکاس ورکړي او پرېکړې يې د شورائیت اصل له مخې وسي. په همدې ترتیب د هرې شورا او کمېټې غونډې د مهالوېش له مخې دائرېږي. د شورا ګانو او کمېټو نومونه په دې ترتیب دي:

- ۱ علمي شورا
- ۲ اداري شورا
- ۳ رهبري شورا
- ۴ هیئت امناء
- ۵ د کیفیت تضمین او لوړاوي کمېټه
- ۶ نظم او ډسپلین کمېټه
- ۷ ستراتېژيک پلان کمېټه
- ۸ نصاب او کرېکولم کمېټه
- ۹ عمومي ارزوني کمېټه
- ۱۰ څېړنې کمېټه
- ۱۱ مالي او اداري کمېټه
- ۱۲ تقرر او انفکاک کمېټه
- ۱۳ جنډر کمېټه
- ۱۴ ازموینو کمېټه
- ۱۵ کتابتون انسجام کمېټه
- ۱۶ نشراتو او فرهنګي چارو کمېټه
- ۱۷ استخدام کمېټه
- ۱۸ برېښنايي زده کړو کمېټه
- ۱۹ بهرنیو اړیکو کمېټه
- ۲۰ چاپېريال ساتنې کمېټه
- ۲۱ فارغانو کمېټه
- ۲۲ محصلانو کمېټه
- ۲۳ ورزش کمېټه



# مرکزونه، خدمات او آسانتیاوي Centers, Services, & Facilites

## ۱ څېړنیز مرکز Research Center

ملالۍ څېړنیز مرکز په ۱۳۹۷ل. کال کې جوړ او په فعالیت يې پيل وکړ. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څېړنیز مرکز د علمي کادرونو، محصلانو او نورو همکارانو په مرسته په ملي کچه روغتیایي او ټولنیزي ستونزي څېړي او حل لاري ورته پیدا کوي. د یاد مرکز له لوري تر اوسه په بېلابېلو علمي برخو کي څېړني او سروې ګاني د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو په مرسته تر سره سوي دي او د علمي مجلي له لاري نشر ته سپارل سوي دي.

## ۲ ژبو مرکز Languages Center

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې ژبو مرکز په ۱۳۹۹ ل. کال کي په فعالیت پیل وکړ. دا مرکز د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې محصلانو، استادانو او کارمندانو د ژبني مهارتونو لوړولو او تخنیکونو قوي کولو په موخه رامنځ ته سوی دئ. ژبو مرکز د بېلابېلو ژبو ور زده کولو په موخه د باکیفیته تدریسي چاپېریال رامنځ ته کولو له پاره هلي ځلي کوي.

یاد مرکز د انګلیسي او عربي ژبو تر څنګ د کمپیوټر زده کړو امکانات هم برابر کړي دي.

## ۳ مسلکي پرمختیايي مرکز Professional Development Center

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیايي مرکز په ۱۳۹۷/۱۲/۲۷ ل. نېټه پرانیستل سوی دئ. یاد مرکز د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو د ظرفیت لوړوني په موخه بېلابېل لنډ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونه دائروي. دا مرکز د غونډو مناسب تالار لري چي د عملي کار(ګروپي کار) او نورو اړوند فعالیتونو له پاره امکانات لري. مسلکي پرمختیايي مرکز په تخصصي او مسلکي برخو کي د استادانو، اداري او تخنیکي کارکوونکو او محصلانو اړتیاوي معلوموي او له هغو سره سم د ظرفیت لوړوني په موخه د مسلکي اشخاصو په مټ بېلابېل لنډ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونو په لاره اچوي.

## ۴ محصلانو انسجام او خدماتو مرکز Students Coordination & Services Center

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې محصلانو د خدماتو او انسجام مرکز د محصلانو چارو معاونیت په چوکاټ کي په ۱۳۹۹ ل. کال کي فعالیت پیل کړ. دا مرکز محصلانو ته د مسلکي او حرفه يي خدمتونو زمینه برابروي، د نظري زده کړو تر څنګ يې د Internship, career fair, job fair پروګرامونو له لاري خصوصي او دولتي ادارو ته د عملي کار له پاره معرفي کوي. یاد مرکز د مشورو ورکولو مختلف ټیمونه لري چي محصلانو ته مسلکي او تخصصي مشورې ورکوي او د ستونزو حل لاري يې ورته ښيي. د دې تر څنګ وخت ناوخت د محصلانو د سرګرمۍ او تفریح په موخه د بېلابېلو لوبو ټورنمنټونه په لاره اچوي.

## ۵ ملالۍ کتابتون Malalay Library



ملالۍ کتابتون د کانګرس پر سیستم جوړ په ۴۳ برخو او څلورو ژبو کي تر ۱۳زره ټوکه ډېر کتابونه لري. محصل کولای سي له هارډ کتاب څخه په کتابتون کي استفاده وکړي یا یې د یوې اونۍ له پاره په امانت یوسي. په آنلاین کتابتون کي زر ګونه سافټ کتابونه سته چي محصل کولای سي هر وخت او په هر ځای کي ورته لاسرسی ولري. کتابتون د ښځینه او نارینه محصلانو له پاره جلا ځایونه لري، د ګروپي مطالعې جلا اطاقونه، د څېړنو له پاره کمپیوټرونه او د چټک انټرنټ خدمات پکښي چمتو سوي دي.

## ۶ کمپیوټر لب Computer Lab



کمپیوټر لب محصلانو ته د کمپیوټر زده کړي او استفادې خدمات وړاندي کوي، د مؤسسې د الکترونیکي تجهیزاتو په څارلو او د مؤسسې په عصري ټکنالوژیکي وسائلو سمبالولو کي له آی ټي آمریت سره همکاري کوي او د محصلانو د تدریسي الکترونیکي تجهیزاتو څارنه کوي. کمپیوټر لب د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو د ظرفیت لوړوني په موخه مختلف پروګرامونه دائروي او په تخنیکي برخو کي یې مرسته کوي.

## ۷ حقوقي کلینیک Legal Clinic

ملالۍ حقوقي کلینیک په ۱۳۹۸ هـ ل کال جوړ او په فعالیت یې پیل وکړ. په دې مرکز کي د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي حقوقو څانګي محصلانو ته په حقوقي برخه کي عملي او مسلکي زده کړي او حقوقي مشوري ورکول کېږي، د بېوزله خلکو فامیلي او جزایي قضیې په وړیا ډول مخته وړل کېږي. حقوقي کلینیک د تمثیلي محکمو دائرولو له پاره جلا ځای لري او هر سمستر تمثیلي محکمې پکښي دائروي.

## ۸ مناظرې کلب Debate Club



د مناظرې کلب د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، سیاسي علومو او نړۍ والو اړیکو څانګي د محصلانو عملي کارونو له پاره جوړ سوی دئ. یاد مرکز خپل مستقل او تزئین سوی مجهز تالار لري چي پکښي وخت نا وخت د محصلانو عملي کارونو په موخه علمي بحثونه، مناقشې، مذاکرې، پېنلونه، ډیپلوماټیک آداب او د تشریفاتو تمثیلونه دائرېږي.

## ۹ عاجل اطاق او درملتون Emergency Room & Pharmacy



ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه کي عاجل اطاق چمتو سوی دئ تر څو په بېړنیو حالاتو کي محصلانو، استادانو او اداري کارمندانو ته لومړني صحي خدمات وړاندي کړای سي. یاد اطاق په معیاري ډول جوړ سوی دئ او د بېړنیو مرستو له پاره لازم تجهیزات او امکانات پکښي برابر سوي دي. په دې اطاق کي محصلانو ته درمل ور پیژندل کېږي او د اړوند مسایلو په تړاو مهم معلومات ورکول کېږي.

## ۱۰ سکېل لب Skill Lab

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي محصلانو ته د عملي کارونو له پاره په طبي وسایلو مجهز سکېل لب جوړ سوی دئ. په سکېل لب کي محصلان د استادانو په لارښوونه عملي کارونه سر ته رسوي. په سکېل لب کي د مضامینو مطابق مواد او موډلونه خریداري سوي دي چي د محصلانو په عملي روزنه کي ډېر ګټور ثابتېږي.

## ۱۱ لابراتوارونه Laborators

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه د طب پوهنځي محصلانو ته د عملي کارونو له پاره پنځه لابراتوارونه جوړ کړي دي. هر لابراتوار د وخت له اړتیاوو سره سم وسایل، امکانات او تجهیزات لري. محصلان په یادو ځایونو کي د مهالوېش مطابق عملي کارونه او تجربي سر ته رسوي. هر لابراتوار د ثبت کتاب لري چي پکښي ټولي تجربې ثبتېږي. د دې تر څنګ د محصلانو له خوا جوړ سوي موډلونه هم په لابراتوارونو کي موجود دي. د لابراتوارونو نومونه په دې ترتیب دي:

- مایکروبیولوژي لابراتوار
- اناټومي لابراتوار
- فزیک لابراتوار
- بیوشیمي لابراتوار
- کیمیا لابراتوار



# تفاهم لیکونه MoU

ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د چارو د بهبود په موخه له یو شمېر تحصیلي او غیر تحصیلي بنسټونو سره د متقابلو ګډو همکاریو تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي چې تفصیل يې په دې ترتیب دئ:

## داخلي او بهرني پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسات

۱ کندهار پوهنتون
۲ رڼا پوهنتون
۳ اناستیو پوهنتون
۴ سلام پوهنتون
۵ بېنوا لوړو زده کړو مؤسسه
۶ افغان د لوړو زده کړو مؤسسه
۷ Noida International University (India)

## دولتي او غیر دولتي/خصوصي سکټورونه

۱ کندهار ولایت مقام
۲ کندهار اطلاعات و فرهنګ ریاست
۳ کندهار پوهني ریاست
۴ کندهار سره میاشت
۵ کندهار استیناف محکمه
۶ نهاد جوانان مسلمان (نجم)
۷ عرفان ټولنیز بنسټ
۸ کندهار تعلیم الاسلام راډیو
۹ عدلیې ریاست
۱۰ افکو نړۍ واله کمپنۍ
۱۱ افغان ارتقاء مشورتي مرکز
۱۲ سنایي پرمختیایي مؤسسه

## روغتونونه او طبي شورا ګاني

۱ ایوبي روغتون
۲ سیدال روغتون
۳ میرویس حوزوي روغتون
۴ میا صاحب تشخیصیه مرکز
۵ بریتانیا طبي شورا

## علمي او نړۍ وال ژورنالونه

۱ Research for Life- Hinari: (Research for Health)



# استادان، محصلان او فارغان Lectures, Students & Alumni



## استادان Lecturers

- د طب پوهنځي په دواړو ځانګو کې ۷ دايمي او ۳۳ بالمقطع ماستر او دوکتور استادان
- د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په دواړو ځانګو کې ۸ دايمي او ۱۷ بالمقطع ماستر او دوکتور استادان

## محصلان Students

| پوهنځی | دورې | نارينه | ښځينه | جمله |
|---|---|---|---|---|
| طب | 22-11 | 647 | 211 | 858 |
| حقوق او سياسي علوم | 22-14 | 242 | 21 | 263 |

## فارغان Alumni

| پوهنځی | دورې | نارينه | ښځينه | جمله |
|---|---|---|---|---|
| طب | 9-1 | 349 | 132 | 481 |
| حقوق او سياسي علوم | 13-1 | 893 | 155 | 1048 |

# لاسته راوړني Achievements

د علمي مجلې او خبري بولټنونو چارې را پیلول
**۱۴۰۰**

مناظرې کلب جوړول او کتابتون پراخول
**۱۴۰۰**

عاجل اطاق او سکېل لب جوړول
**۱۴۰۰**

کفتریا، کانتین او کاپي مرکز جوړول
**۱۴۰۱**

د ژبو مرکز او حقوقي کلینیک پرانیستل
**۱۳۹۹**

د فوټبال، واليبال او کرېکټ لوبغالي جوړول
**۱۳۹۹**

له APQN سره غړیتوب ترلاسه کول
**۱۴۰۰**

د امریکا له ECFMG او د بریتانیا له GMC سره غړیتوب ترلاسه کول
**۱۴۰۰**

د مسلکي پرمختیایي مرکز یا PDC او څېړنیز مرکز فعالول
**۱۳۹۸**

د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز پرانیستل
**۱۳۹۸**

د تضمین کیفیت په دوهم پړاو کي لومړی مقام ترلاسه کول
**۱۳۹۸**

په دایمي ځای کي نوی درې پوړیېزه ودانۍ جوړول
**۱۳۹۹**

د USMLE آمادګۍ کورس له پاره منظم ځای او کورسونه جوړول
**۱۳۹۶**

نړۍ والو څېړنیزو وېب پاڼو (هناري او اګورا) ته لاسرسی موندل او ورسره قراردادونه کول
**۱۳۹۶**

د مؤسسې د دایمي ځای په «۳۳.۵» جریبه ځمکه د تعمیراتي چارو پیلول
**۱۳۹۶**

د WHO یا نړۍ وال روغتیایي بنسټ غړیتوب ترلاسه کول
**۱۳۹۷**

د طب، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیو پرانیستل
**۱۳۹۱**

کتابتون، کمپیوټر لب او څلور لابراتوارونه پرانیستل
**۱۳۹۲**

د تضمین کیفیت په برخه کي د لوړو (۸۶.۳) نمرو ترلاسه کول
**۱۳۹۴**

د مؤسسې له پاره دایمي ځای پیدا کول او د ماسټر پلان له مخې ئې د جوړولو چارې پیلول
**۱۳۹۶**



ملالی لوړو زده کړو مؤسسه

**Malalay Institute of Higher Education**

# Catalog



**2023-24**